# افغانستان آزاد ـ آزاد افغانستان

**AA-AA**

چو کشور نباشد تن من مبــــاد　　بدین بوم و بر زنده یک تن مــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم　　از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com　　afgazad@gmail.com

| سیاسی | Political |
| --- | --- |

بســـــــــــمل
۱۹-۱۲-۲۰۰۹

## اعـــــــــــلامیـــــــــه

نن د جرمني په بايرن ايالت کې د افغانانو کولتوري ټولنې دحامد کرزي د نوې کابينې د محکومېدو په پلمه خپله نوبتي غونډه په داسې حال کې وکړه چې باور لرو دا ډول لاسپوڅي حکومتونه ، مسخريي او ځېځپاني کابينې زموږ دکړېدلي هيواد اومظلوم ولس کړاونه نه شي ختمولای .
د يادولو وړ د ه چې زموږ دکولتوري ټولنې غړو په پوره ځيرکتيا سره دسږ کال دجعلي، غيرطبيعي او تحميلي ټولټاکنو تحريم ته ځکه ولس را بالله چې په جريان او انجام يې پوهېدو، تاسو ته به هم دځينولوپېديځوالو په تېره بيا دواشنګټن،لندن او فارس دبد نيت، سپين سترګي اولاسوهنوچې کرزی يې ژړاته رارسولی وشاهد ياست .
پورتنيومغرضينو زموږ دهيوادډتجزې لپاره غبرګ عبدالله ته ښه ډېر بنګ ورکړي ووځکه خوموږ دګران هيواد دنجات په خاطر دټولټاکنودوهم پړاو ته په خپلواعلاميواو راديويي تبلغاتوسره ولس وهڅاوه چې په ټولټاکنو کې دکرزي په ګټه برخه واخلي تر څو دښنکېلاکګرو دا توره نقشه په اوبو ويسو.
افغان قدردان اواتل ولس هم په مېړانه سره د دوهم پړاو ټولټاکنوته ځان تيار کړ چې په نتېجه کې يې په مغرضو لويديځوالواوجنګي جنايتکارانوباندې درنه زلزله راوسته چې بياغبرګ عبدالله داهرڅه په خپلو ځغاستو کې تمثيل کړل .
افغان ولس په خپل زورسره کرزي ته ډکر وګاټه خو افغان دښمن کرزي دادی بيا دولس له پاک نيت سره جفا وکړه له همدې کبله مو زموږ په نننۍ غونډه کې دحامد کرزي نوې خطرناکه لوبه په لاندې جملوسره محکومه کړه :
۱ ـ حامد کرزي په داسې حال کې يوځل بياله ولس سره جفا وکړه چې ولسي ځپې له غبرګ عبدالله څخه لار ورکه اوپه سوړوننبست، همدې اتل ولس حامد کرزي ته دوهم ژوند ورکړخوهغه بيا هم دجنګي جنايتکارانو په تېره بيادنظارد کرغېړني، محکومې، جنايتکارې او هيواد پلورونکي شورا په خوښه لوبه پيل کړه .
۲ ـ حامد کرزي پخپله کابينه کې بيا هم داسې کسان له ځانه تاو کړي دي چې د ملي ګټو او وياړونو هيڅ پروا نه لري لکه دايران په ځنځير تړلي مخدوم رهين چې دا ځل به بيا زموږ دفرهنګيانو ترمينځ ستر درځونه واچوي .
۳ ـ حامدکرزي په داسې حال کې دخپلو ټاکنيزو دلالانو په خوښه کابينه برابره کړې چې په حقيقت کې يې کرزي ته هيڅ هم نه دي کړي لکه بدبخور تورن اسمعيل او ځينې نور .
۴ ـ حامدکرزي ترپرده لاندې داخل بيا هم هغه ستمي اوايران تړلي (سپنتا) ته غبږ پرانيستې ده کوم چې زموږ دهيواد دنړيوالې څېرې دبدنامي لپاره نا اهله شمالي ټلواله په سياسي نمايندګيوکې لا پسې ونازوله .
۵ ـ کرزي د خپلې کابينې ليست دهغې ولسي جرګې هوکړې ته لېږلی کومه چې له اخلاقي اوحقوقي اړخه هيڅ ډول مشروعيت نه لري داځکه چې داتش په نا مه ولسي جرګه هم زموږ اتل ولس رټلې او هم يې مشر لوی جنګي جنايتکار دی .
۶ـ کرزي د تاريخ په وړاندې ځانمرګی عمل وکړ ، هغه ولس ته بيا هم رښتين ونه خوت، دا وروستۍ دوره به يې هم تېره شي خو د ژوند تر پايه پورې به افغان ولس ته مخ ونه لري داځکه چې ولس ته دښنکېلاکګروموخې نه څرګندوي، ځان ولسمشر بولي خو په حقيقت کې نه د خپل هيواد د ځمکې اونه فضأ واک لري بس په څلورو دېوالونو کې حصار دی (پهلوان زنده خوش است )

۷ ـ زموږ په غونډه کې یوشمېر هغه ډالرمین ژورنالستان وغندل شول کوم ځیني چې په امریکا غږ ، بي بي سي او ازادي راډیوګانوکې راډیو تیلیفوني بحثونه ترتیبوي، دوی هغه تیلیفونونه بندوي کوم چې دولس دردونه پکې اظهارېږي دا ښاغلي دې په دې پوه شي چې تل به نه ادم خان وي او نه به یې دا سپېره اوښان وي دا ژورنالستان افغان ولس او تاریخ ته محکوم دي، افغان ولس به یې پخپلو کلیو او باندو کې یوه شېبه هم پرې نه ږدي .

مـــــــــــلاتړ :

زموږ کولتوري ټولنه دلوی پکتیا دمدنیي ټولنو دهغې ننۍ غونډې څخه ملاتړ کوي په کومه کې چې دکرزي مصلحتي کابینه وغندل شوه .

دجرمني په بایرن ایالت کې د افغانانو کولتوري ټولنه